ورځپانه
# هیواد

مؤسس: عبدالرووف بېنوا
د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز
دوشنبه د ذوالحجة الحرام ۱۹ مه ۱٤٤٦ق کال، د غبرګولې ۲٦ مه ۱٤۰٤ ل کال، د جون ۱٦ مه ۲۰۲۵ م کال، خصوصي ګڼه ٦٦ مه، پرله پسې ګڼه ۷۲۹ مه، اتمه دوره

## تېر کال هېواد کې ۹۰۰ لويې او وړې شخړې حل شوې

د سرحدونو، قومونو او قبايلو چارو وزارت وايي: تېر کال يې د هېواد په بېلابېلو سيمو کې د ديني عالمانو او قومي مشرانو په هلو ځلو څه باندې ۹۰۰ هغه شخړې حل کړي، چې له امله يې ښکيلو غاړو ته د ځاني زيانونو ترڅنګ مالي زيانونه هم اوښتي وو. ياد وزارت زياتوي، چې د اسلامي امارت له بيا واکمنۍ راپه دې خوا ياد وزارت ۲ زره او ۶۵۰ شخړې حل کړي او دواړه لوري يې راضي کړي چې تېرې ناخوالې هېرې، د ورورولۍ فضاء رامنځته او نوی د خوښۍ ژوند پيل کړي. ياد وزارت وايي: د حل شويو شخړو د لوريو تر منځ د هېواد په کچه تر اوسه بيرته شخړې نه دي شوې او زياتوي، چې د تازه شخړو د مخنيوي لپاره يې ځانګړي ميکانيزم او کمېټې جوړې کړې، ترڅو مسئلې په دايمي ډول حل کړي.

## لوګر کې د برښنا رسولو پروژې چارې پيل شوې



د اوبو او انرژۍ وزارت له لوري د لوګر په سفيد سنګ کلي کې د ۲۰۰۰ کورنيو لپاره د برښنا رسونې پروژه پيل شوه، دغه پروژه د ۳۱ ميليونه افغانيو په توليز لګښت د لوګر په سفيد سنګ کلي کې د اوبو او انرژۍ د سرپرست وزير الحاج ملا عبداللطيف منصور، د انرژۍ معين الحاج ملا عبدالهادي يعقوب، د لوګر مرستيال والي مولوي محمد انور دين پرور، د لوګر د اوبو او انرژۍ رئيس ملا محمد اسماعيل آخندزاده، د اوبو او انرژۍ وزارت د تخنيکي رئيسانو او د سيمې د ګڼ شمېر اوسېدونکو په شتون کې پرانيستل شوه. د اوبو او انرژۍ سرپرست وزير
... ۲مخ


## نورالدين عزيزي د منځنۍ اسيا له هېوادونو سره د اقتصادي اړيکو پر پياوړتيا ټينګار وکړ

د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست، نورالدين عزيزي په کابل کې د قرغيزستان له سفير «توردا کون سيديکوف» سره کتلي او دواړو لورو پر بېلابېلو مسايلو خبرې کړې دي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت ويلي، چې په دې کتنه کې د دواړو هېوادونو ترمنځ د سوداګريزو اړيکو د پراختيا لپاره د يوې نقشې پر جوړولو، د دواړو هېوادونو د خصوصي سکتور د فعالينو ترمنځ د سوداګريزو تبادلو لپاره د اسانتياوو پر برابرولو بحث شوی او همداراز له قرغيزستان څخه افغانستان ته د بشري مرستو پر لېږد هم خبرې شوې دي. د خبرپاڼې له مخې په دې کتنه کې د قيرغزستان سفير د هغه هېواد «بيشکک» فورم کې د ګډون رسمي بلنه وړاندې کړې ده. د صنعت او سوداګرۍ وزارت په




خبرپاڼه کې دا هم ويل شوي، چې په دې کتنه کې د اقتصاد او سوداګرۍ د وزير له خوا نورالدين عزيزي ته د
... ۲مخ

## ننګرهار کې د بېلابېلو جرمونو په تړاو ۳۶۴ تنه نيول شوي



د ننګرهار امنيتي مسئولينو له تېرو دوو مياشتو راهيسې په ياد ولايت کې د بېلابېلو جرمونو په تړاو د ۳۶۴ کسانو د نيولو خبر ورکړی دی. د دغه ولايت امنيې قوماندانۍ ويلي چې د جنايي جرمونو پر وړاندې د مبارزې مديريت ۳۶۴ کسان د غلا، فريبکارۍ، د والدينو نافرمانۍ، قاچاق، د نشه‌يي توکو د کاروبار، د کروندو او ونو تخريب، د وژنو او د قتل هڅې، انسان تښتونې، خيانت، رشوت، غصب او د عامه نظم اخلالولو په جرمونو نيولي دي. د ننګرهار د مسئولينو په وينا په دوي کې له ځينو کسانو سره بېلابېلې وسلې هم نيول شوي دي. سرچينې همداراز ويلي چې نيول‌شوي کسان يې عدلي او قضايي ارګانونو ته د قانوني اجراءاتو په موخه ورپېژندلي دي. د يادونې وړ ده چې د اسلامي امارت ځواکونو له دې مخکې هم د پلازمېنې کابل په ګډون په يو شمېر ولايتونو کې د بېلابېلو جرمونو په تړاو سلګونه کسان نيولي وو.

## تکذيب شايعه بسته شدن مرز ايران و افغانستان

در پی تنش‌های اخير ميان ايران و اسرائيل، برخی رسانه‌ها گزارش داده‌اند که مرز ميان ايران و افغانستان بسته شده است. اما رحمت‌الله فيضان، معاون نمايندگی وزارت امور خارجه در ولايت هرات، با رد اين گزارش‌ها تأکيد کرد که مرز ميان دو کشور در غرب افغانستان باز است و رفت‌وآمد مردم و انتقال اموال تجاری به‌صورت عادی جريان دارد. فيضان افزود که وضعيت در مرز کاملاً عادی بوده و هيچ‌گونه اخلالی در روند فعاليت‌های تجاری و مسافرتی مشاهده نمی‌شود. وی همچنين تصريح کرد که اين‌گونه شايعات از سوی رسانه‌های مغرض و وابسته به دشمنان دو کشور دوست و برادر منتشر می‌شود و هدف آن‌ها ايجاد تشويش اذهان عمومی و اخلال در روابط دوجانبه است.

### د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت:
## د افغانستان له فضا عبوري الوتنې زياتې شوي

د افغانستان اسلامي امارت د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت هېواد ورځپاڼې ته ويلي چې د افغانستان فضا د الوتنو لپاره پوره خوندي ده او ټول د اړتيا وړ خدمتونه وړاندې کوي. د ياد وزارت په وينا اوس‌مهال د عبوري الوتنو شمېر زيات شوی دی او هڅه کوو چې دغې برخې ته لا پاملرنه وکړو. د دغه وزارت وياند حکمت الله اصفي هېواد ورځپاڼې ته وويل، چې د افغانستان اړوند ټول نړيوال او محلي هوايي ډګرونه الوتنو ته د هوايي چلند پر اصولو او معيارونو برابر دي. نوموړی په دې وروستيو کې د افغانستان له فضا د تېرېدونکو الوتنو د زياتوالي خبر ورکوي. همدارنګه د افغانستان فضا د ملکي الوتنو لپاره پوره خوندي ده او موږ ويلای شو چې اوس مهال د عبوري الوتنو شمېر زيات شوی. ښاغلي اصفي د افغانستان له فضا څخه تېرېدونکو الوتنو ته د چوپړتياوو ډاډ
... ۲مخ



## لغمان کې د اوبو رسولو يوه شبکه جوړېږي

د کليو د بيارغونې او پراختيا وزارت وايي، چې د لغمان په مرکز، مهترلام کې د څلور ميليونو ۴۱۸ زره افغانيو په لګښت د اوبو رسونې يوې شبکې د جوړولو چارې پيل شوې دي. ياد وزارت رسنيو ته په لېږلې خبرپاڼه کې ويلي چې دا شبکه د مهترلام ښار په «نوآباد» سيمه کې جوړېږي. د خبرپاڼې له مخې په دې پروژه کې د ۸۰ متره ژوروالي سره د يوې ژورې څا کيندل، د ۵۰ متره مکعبو ظرفيت لرونکي د اوبو ذخيرې جوړول، د ۱۰۰ نلکو او ۵۰ لمريزو تختو نصبول او د ۴۵۰۰ متره پايپونو غځول شامل دي. په خبرپاڼه کې د دې پروژې د مالي سرچينې په اړه څه نه دي ويل شوي. ويل کېږي چې د دې شبکې په جوړېدو سره به سلګونه کورنۍ د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسي ولري. د ويلو وړ ده چې له دې مخکې هم په يو شمېر ولايتونو کې د څښاک پاکو اوبو ته د لاسرسي په موخه لسګونه دا ډول پروژې ګټې‌اخيستنې ته سپارل شوې وې.



## سمنګان؛ د ډبروسکروکان د نړېدو پېښه کې ۴ تنو ژوند بايللی

دسمنګانو ولايت د امنيې قوماندانۍ مسئولين وايي، چې د دغه ولايت په دره صوف بالا ولسوالۍ کې د سکرو د يوه کان د نړېدو له امله څلورو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. د ياد ولايت د امنيه قوماندانۍ وياند حشمت الله رحماني باختر اطلاعاتي آژانس ته ويلي، چې دغه پېښه د دره صوف بالا ولسوالۍ په ليله او قبي سيمه کې رامنځته شوې، چې له امله يې څلورو کسانو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. د نوموړي په وينا، د يادو کسانو جسدونه وروسته شپه د پوليسو او د سيمې د خلکو په همکارۍ له تونل څخه رااېستل شوي او خپلو کورنيو ته سپارل شوي دي.

## هرات کې د ۸ ښوونځيو ودانۍ بيارغول کېږي



د هرات د پوهنې رياست مسئولين وايي چې د ياد ولايت په ګذرې او زيرکوه ولسواليو کې د څه باندې ۴ ميليونه افغانيو په لګښت د ۸ ښوونځيو د ودانيو د بيا رغولو چارې پيل شوې دي. د ياد ولايت د پوهنې رئيس مولوي رحمت الله جابر باختراطلاعاتي آژانس ته ويلي چې دغه ودانۍ د يوې همکارې مؤسسې په مالي ملاتړ د ۴ ميليونه ۴۸۰ زره افغانيو په لګښت جوړېږي، چې په بشپړېدو سره به يې زرګونو زده کوونکو ته د زده کړو مناسب چاپېريال برابر شي.
د يادونې وړ ده چې د اسلامي امارت په بياواکمنېدو سره په ټول هېواد کې د سلګونو ښوونځيو او مدرسو لپاره ودانۍ جوړې شوې دي.

## د روغتيا نړيوال سازمان په افغانستان کې د وينې ورکول ستايلي



د روغتيا نړيوال سازمان هر کال د وينې ورکوونکو نړيواله ورځ د دې لپاره لمانځي، چې اړمنو ته د وينې ورکړې په اړه د عامه پوهاوي کچه لوړه شي. په افغانستان کې د روغتيا نړيوال سازمان استازي په هېواد کې د وينې ورکوونکو د درناوي ترڅنګ وايي: ناروغانو ته د وينې د هر څاڅکي ورکړه کولی شي د دوی ژوند وژغوري او دغه کار په افغانستان کې د روغتيا لپاره ګټور تمامېدای شي. دغه سازمان ((د يو ځل وينې په ورکړې سره کولی شئ د درېوو کسانو ژوند وژغورئ)) تر سرليک لاندې شعار سره خلک هڅوي، چې د ناروغانو د ژوند ژغورلو لپاره وينه ورکړي
... ۲مخ

## له پاکستان او ايران څخه ۴۹۷ کورنۍ خپل هېواد ته راستنې شوې

د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسيون پرون له پاکستان او ايران څخه هېواد ته د ۴۹۷ افغان کورنيو د راتګ خبر ورکړی دی. د ياد کمېسيون دارالانشاء د يوې خبرپاڼې په خپرولو سره ويلي چې د غبرګولې په ۲۴مه نېټه د تورخم له لارې ۸۹ کورنۍ هېواد ته راستنې شوې او د نوموړو کورنيو ۴۳۷ تنه غړې، ثبت او بايوميټريک شوي دي. د سرچينې
... ۲مخ




# د افغانستان ثبات؛ یووالی، زغم او د ملي ګټو درناوی!

په نړۍ کې هغه ملتونه، چې د ثبات او پرمختګ لوړو پوړیو ته رسېدلي، تل یې د یووالي، متقابل درناوي او د ګډو ملي ارزښتونو درناوی کړی دی. افغانستان، چې له اوږدو جګړو او یرغلونو څخه ځوربدلی، اوس الحمدلله په داسې پړاو کې دی، چې د یو نوي برخلیک دروازه پرانیزي. د دغه برخلیک کلي یوازې د افغانانو په لاس کې ده. د افغانستان د دایمي ثبات او پرمختګ لاره نه د بهرنیو مرستو، نه د شعارونو او نه هم د لنډمهالو هوکړو له لارې تأمینېږي، بلکې یوازې هغه وخت شونې ده، چې ټول افغانان د اسلام د سپېڅلي دین او د افغانیت تر سپین بیرغ لاندې سره راټول شي. وروستي پرمختګونه، لکه د کورنیو چارو د سرپرست وزیر پر یووالي ټینګار، دا ثابته کړه، چې د ملي اجماع، اخلاص او یو موټي فکر له لارې موږ کولای شو خپل هېواد له هر ډول بحرانه وژغورو او روښانه راتلونکې جوړه کړو.

د کورنیو چارو وزیر د تېر لوی اخیر په شپو او ورځو کې پر دې ټینګار کړی، چې ((د ملت له ټولو ستره ستونزه د اهدافو هېرول او د فردي تفسیرونو له امله د ګډو ترتیبونو ماتېدل دي. دا واقعیت، چې افغانستان څو ځله د بحران کندې ته تللی، کله، چې ملي ګټې له شخصي یا ګوندي ګټو قرباني شي، هېواد بحران ته لوېږي. دا بحرانونه له جګړو، فقر، بې‌اعتمادۍ او سیاسي بې‌ثباتۍ پرته بله پایله نه لري.)) اوس چې د اسلامي امارت په حاکمیت سره جګړه پای ته رسېدلې او د سوله‌ییز ژوند لپاره زمینه برابره شوې، نو افغان ولس ته دا یو الهي نعمت دی، چې یو د بل لاس ونیسي، زخمونه تداوي کړي او د ورورګلوۍ یوه نوې پاڼه پرانیزي. لکه څنګه چې حقاني وایي: ((موږ باید په ماضي محاسبه ونه کړو او په مستقبل اټکل ونه کړو، په مستقبل به د خیر اټکل کوو.)) دا فلسفه، چې د ماضي تکرار نه، بلکې له هغې عبرت اخیستل او راتلونکې ته په نېکو امیدونو سره لیدل دي، د ملتونو د ودې بنسټ ګڼل کېږي. که موږ له تېرو ستونزو، وېش، جګړو او تباهکارۍ پند واخلو او نن د یو ملت په توګه د یو واحد هدف لپاره کار وکړو، نو راتلونکې به مو له رڼا، امن او پرمختګه ډکه وي.

د کورنیو چارو وزارت سرپرست په ښکاره ډول د امنیتي ځواکونو دنده یاده کړه، چې باید اجازه ور نه کړي څوک د بې‌باورۍ، نافرمانۍ او اختلاف رامنځته کولو هڅه وکړي. دا خبره نه یوازې د امنیتي ځواکونو لپاره یو مسئولیت بلل کېږي، بلکې د ټول ملت پر اوږو د یو ستر مسئولیت بار هم ږدي. هر افغان، که عالم دی، که سیاستوال، که متعلم، که کسبګر، باید د یووالي بنسټیز ارزښت ته ژمن وي.

سوله، امنیت او ثبات هغه ښکلي نعمتونه دي، چې هېڅ پرمختګ له هغو پرته شونی نه دی. دا موضوع د علماوو له خولې هم روښانه شوه، چې وایي: ((افغانان کولی شي د اسلامیت او افغانیت پر محور سره راټول شي او خپل هېواد آباد کړي.))

باور مو دادی، چې اوسني فرصت د افغان ولس لپاره یو ستر امتحان دی. جګړه پای ته رسېدلې او هېواد د بیا رغونې تمه لري. دا هغه وخت دی، چې هر افغان، که دننه دی او که بهر، باید د شخصي، سمتي، ژبنیو او تنظیمي ګټو پر ځای اسلامي او ملي ګټو ته لومړیتوب ورکړي. دا زموږ مسئولیت دی، چې د اختلاف پر ځای اتفاق، د تجزیې پر ځای تجمع او د ځان‌غرضۍ پر ځای د ملت‌پالنې لورې غوره کړو. که د اسلام او افغانیت پر ګډ محور سره راټول شو، نه یوازې به ثبات ټینګ کړو، بلکې افغانستان به د نړۍ په کچه د سولې، یووالي او پرمختګ یو مثال وګرځي. ان شاءالله

### لوګر کې د برښنا رسولو ...

د دغې پروژې په پرانیست غونډه کې وویل، چې د اسلامي امارت مسئولین شپه او ورځ مسئولانه په لږو امکاناتو سره د خلکو د هوساینې او د هېواد د پراختیا لپاره هڅې کوي، له همدې کبله له خلکو څخه هم تمه ده، چې د دغه نظام پر ارزښت پوه شي او له مسئولینو سره همکاري وکړي.ده زیاته کړه، چې اسلامي امارت د اقتصادي پرمختګ په برخه کې اغېزمن او ارزښتناک ګامونه پورته کړي او په بېلابېلو برخو کې ګڼې پروژې یې د هېواد په بېلابېلو برخو کې پلي کړې دي.ښاغلي منصور ټینګار وکړ، چې اوسمهال له هره پلوه د پانګونې او هېواد ته د خدمت کولو لپاره زمینه چمتو شوې او هغه مهال را رسېدلی، چې د هېواد پانګوال او سوداګر افغانستان ته را ستانه شي او د دغه هېواد په آبادۍ کې ونډه واخلي. همدارنګه، د اوبو او انرژي سرپرست وزیر د دغې پروژې پلي کول د محمد آغې ولسوالۍ د خلکو لپاره اړین وبلل او یادونه یې وکړه، چې د اوبو او انرژي وزارت له لورې به په راتلونکې کې په لوګر ولایت کې د اوبو او انرژي لا زیاتې پروژې پرانیستل شي.له بلې خوا، د لوګر مرستیال والي د دغې پروژې پلي کول د محمد آغې ولسوالۍ د خلکو لپاره حیاتي وبلل او له خلکو څخه یې وغوښتل چې د دغې پروژې د پلي کولو په برخه کې همکاري وکړي.په ورته مهال، د پایدارې انرژي عمومي رئیس مولوي عبدالرحمن رحماني د پروژې په هکله په تخنیکي ډول معلومات وړاندې کړل او یادونه یې وکړه، چې دغه پروژه به د یو کال په ترڅ کې بشپړه شي او د څه باندې یو میګا ولټ امپیرو وړتیا په درلودلو سره به

# فکري جګړې له وسلو او مهماتو سره کار نه لري، بلکې شخصیتونه او هویتونه تر هدف لاندې نیسي

حیات الله حلیم

اسلامي علماوو فکري جنګ د جنګونو د یوې نوې او خطرناکې طریقې په توګه تعریف کړی، ځکه هغوی دې ته متوجه شوې چې کله صلیبیانو د متواترو، نظامي جنګونو په ترڅ کې ماتې وخوړله، نو د فکري جنګ طرحه یې جوړه کړه، همدا وجه وه چې مسلمانان هم د دوی دې طرحې ته متوجه شول او د اسلامي هېوادونو په پوهنتونونو او مدرسو کې یې تصمیم ونیو چې د صلیبیانو له ستراتېژۍ د نوی نسل د بچ ساتلو لپاره یوه داسې طرحه جوړه کړي چې مسلمان ځوانان هم د صلیبیانو په مقابل کې ورته ذهني جبهه ونیسي، صلیبیانو دا پروسه د نړۍ په اسلامي هېوادونو کې د مسلمانو ځوانانو ترمنځ د پیسو په ذریعه په ډېر لوړهنر د انجوګانو او په یوه او بل نامه د نورونړیوالو بنسټونو په تشکیل کې پیل کړه، ځکه په انجوګانو اوساختماني شرکتونو کې کار دوامداره وي او معاشونه لوړ او د زمانې په تېرېدو سره په دام کې را ګیرو ځوانانو ته په نرمه دلاساینه ویل کېږي: څوک چې چېرې کارکوي، باید د خپل کاري بنسټ پر ارزښتونوهم معتقد شي او په دې توګه ناخبره ځوانان د پیسو په تطمیع د خپلو اهدافو پر محور څرخوي، فکري جنګ په مراتبو له نظامي جګړې خطرناک دی، ځکه نظامي جنګ هر چاته ښکاره او مشخص وي، په نظامي تهاجم کې ملتونه سره بسیج کېږي، یولاس کېږي او په ښکاره د دښمن په مقابل کې د مبارزې په ډګر کې درېږي، خو فکري جنګ هغه بې غیرته عمل دی چې په پټه د لوړو مادي امکاناتو په ترڅ کې په داسې مانور ترسره کېږي چې قربانیان یې د منفي حرکت یعنې د فکري او فرهنګي جنایت تراعمال پورې نه پوهېږي، نو له همدې امله د فکري جنګ پر ستراتیژۍ پوهېدل یوه داسې ژوره اوپېچلې مسئله ده چې دفاع او په مقابل کې یې د مقاومت لپاره کومه مشخصه طرحه نشته، پر مسلمانو دعوت کوونکو لازمه ده چې دې پېچلې موضوع ته د موثرو روشونو او ابزارو په ذریعه په ځېرمتوجه اوسي او د هغو توطیو په مقابل کې چې د اسلام د سپېڅلي دین پر ضد د تنصیریانو اوتبشیریانو له خوا په لارې اچول شوي د خپلې پوهې او درایت په ذریعه موضوع کشف او په مخنیوي کې یې خپل مسئولیت ترسره او مخکې له دې چې اسلامي ټولنې د صلیبیانو له خوا، اغوا شي، خبرې کړي، یوازې مبلغین کولای شي له دې درانه مسئولیته را ووځي او مسلمانان بیداراو په دې یې ویوهوي چې له وسلوال جنګه دا خطرناک جنګ دی، چې صلیبیانو د مسلمانانو په مقابل کې روان کړی دی او دا هغه شیطاني دامونه دي چې د مسلمانانو د اولادونو لپاره د تنصیریانو له خوا د دوی په لاره کې اېښودل شوي دي.

الله پاک د بقرې سورة په ۲۱۷ آیت کې فرمایي: ژباړه: «دوی (مشرکان) به پرلپسې له تاسې سره جنګ کوي، ترڅو که وتوانېږي چې تاسې له خپل دین او آئین څخه واړوي.»

کله چې د فرانسې پاچاه نهم لویس په صلیبي جګړو کې د مسلمانانو په لاس اسیر شو، نو د څه وخت لپاره د مصر په منصوره زندان کې بندي پاتې شو، چې وروسته د فدیې په مقابل کې آزاد شو، د بندیخانې په موده کې یې په دې موضوع چې څنګه مسلمانانو ته ماته ورکړي، زیات فکر وکړ، خوبالاخره دې نتیجې ته ورسېد چې په نظامي لحاظ له مسلمانانوسره مخامخ کېدل ګټه نه لري، بلکې له هر څه د مخه د هغوی له فرهنګ (ارزښتونو) سره باید جنګ وشي، کله چې پاریس ته وګرځېد، نو د مسیحیت نړۍ ته یې اعلان وکړ، چې که غواړئ مسلمانانو ته ماتې ورکړئ، په وسلو، له هغوی سره مه جنګېږئ، ځکه چې هغوی په تاسې زورور دي او په نظامي جګړه کې تاسې له ماتې سره مخ کوي، د حل لاره داده چې یوازې او یوازې د هغوی له عقیدو سره وجنګېږئ، ځکه د مسلمانانو د بریالیتوب راز د هغوی په کلکوعقایدو کې نغښتی.

همدا وجه ده چې د لویس له اعلان وروسته صلیبي نړۍ دې ته متوجه شوه چې د لویس د فورمول پر بنا له مسلمانانو سره بې وسلې وجنګېږي؟ هغه وه چې خپله جنګي ستراتیژۍ یې بدله کړه او په لطایف الحیل یې د فکري جنګ لاره غوره کړه چې د زمانې په تېرېدو سره دا جنګ د وسلوال جنګ په پرتله مهم ثابت شو، ځکه ابزار یې پیسې وې چې پایلې یې له څه مودې وروسته معلومېږي.

فکري جنګ په مراتبو له نظامي جنګ څخه خطرناک دی، ځکه فکري جنګ هېوادونه او جغرافیاوې مبارزې ته نه را بولي، بلکې عقلونه او اندېښې سره جنګوي، فکري جنګ له اردو اونظامي قواوو سره نه مخ کېږي، بلکې د وګړو او ملتونو له مغزونو سره مخ کېږي، فکري جنګ غرونه، دګرونه او درې نه اشغالوي، بلکې فکرونه اندېښنې او فرهنګونه تر یرغل لاندې راولي، فکري جنګ له نظامي قرارګاوو سره سروکار نه لري، بلکې شخصیتونه او هویتونه ترهدف لاندې نیسي اوښکارکوي یې، فکري جنګ د مقابل لوري وسلې، مهمات او نظامي ځواک له منځه نه وړي، بلکې عقاید او اخلاق نابودوي.

کابو ۲۰۰۰ کورنۍ د برښنا رسونې تر پوښښ لاندې راولي.

### نورالدین عزیزي ...

د یاد وزارت سرپرست، نورالدین عزیزي د منځنۍ آسیا له هېوادونو سره د اقتصادي اړیکو پر پیاوړتیا ټینګار کړی او د اقتصاد او سوداګرۍ وزیر د بلنې او افغانستان ته د قرغیزستاني پلاوي د سفر هرکلی یې کړی دی. ښاغلي عزیزي همداراز په کابل کې د قرغیزستاني محصولاتو او تولیداتو لپاره د نندارتون جوړېدو او په لوړه کچه د ترونونو د لاسلیک‌کېدو وړاندیز هم کړی دی.

### د افغانستان له فضا ...

ورکړ او ویې ویل چې ټول د اړتیا وړ وسایل او خدمات ترسره کوي. ده په دې اړه وویل: هغه خدمات چې په هوایي ډګرونو کې د عبوري الوتنو لپاره ضرور وي، په پوره توګه دا خدمات وړاندې کېږي. دغه اداره زیاتوي چې د هوایي او ځمکني ټرانسپورټ برخې ته به لا پاملرنه وشي. د ټرانسپورټ او هوایي چلند وزارت هڅه کوي چې د ځمکني او هوایي ټرانسپورټ په برخه کې لا نورې اسانتیاوې وړاندې کړي. باور دا دی چې د افغانستان له فضا څخه د عبوري الوتنو زیاتوالی د افغانستان له سرتاسري امنیت او په منځني ختیځ کې د ایران او اسرائیلو د جګړې له امله دی، چې یادې جګړې د ایران په شمول د ځینو نورو هېوادونو فضا هم د الوتنو له خطر سره مخ کړې ده.

تاج محمد بهار

### د روغتیا نړیوال سازمان ...

په افغانستان کې د روغتیا د نړیوالو سازمان استازی اډوین سینیزا سلواډور وایي: ((د وینې ورکوونکو په نړیواله ورځ موږ د هغو افغانانو درناوی کوو، چې په بې غرضه توګه وینه د ژوند د دویم چانس لپاره نورو ته ورکوي. د وینې هر څاڅکی د اړمنو د ژغورلو لاره ده او په دې اړه د خواخوږۍ هر ګام د افغانستان له سلامتۍ سره مرسته کوي.)) د عامې روغتیا وزارت ویاند شرافت زمان امرخېل د وینې په ټولو بانکونو کې د امکاناتو برابرولو ډاډ ورکوي. زمان په دې اړه وایي: ((د عامه پوهاوي ترڅنګ په مرکز او ولایتونو کې د وینې بانکونو ظرفیت لوړ شوی او څومره چې اړتیا وه، نوي وسایل اخیستل شوي دي. موږ هڅه کوو د عامه پوهاوي له لارې د وینې ورکولو فرهنګ عام کړو. له ټولو خلکو او په ځانګړې توګه له ځوانانو هیله لرو، چې د درېوو یا حد اقل شپږو میاشتو په جریان کې د وینې بانکونو ته ورشي او د خپلې وینې په اهدا کولو سره وینې ته د اړمنو ناروغانو ژوند وژغوري.)) په ورته وخت کې یو شمېر ډاکټران په ناروغانو کې د وینې د کموالي او اړتیا عمده لامل په بدن کې د ویټامینونو او وسپنې کموالي یادوي او زیاتوي، چې دغه ستونزه تر ډېره ښځو او ماشومانو کې پیدا کېږي. ډاکټر عبدالرزاق احمدزي وایي: ((په عمومي توګه که ووایم، چې د وینې کمښت د کومو لاملونو له امله پیدا کېږي، په ښځو او ماشومانو کې د دې ناروغۍ د پیدایښت لامل د هغوی په بدن کې د هغو خاصو موادو کمبود دي چې په بدن کې وسپنه تولیدوي، یعنې دا چې د دوی په بدن کې وسپنه کمه ده. په دویم ګام کې د وینې کمېدو لامل په بدن کې د بي ۱۲ او نورو ویټامینونو کمښت دي.)) له ۲۰۰۴ زېږدیز کال راهیسې د روغتیا نړیوال سازمان، د وینې لېږد نړیوالې ټولنې، سرې میاشتې او سره صلیب نړیوالې ټولنې او د وینې ورکوونکو نړیوالو سازمانونو ټولنې له خوا د جون ۱۴ مه د وینې ورکوونکو د نړیوالې ورځې په نامه نومولې ده.

### له پاکستان او ایران ...

د معلوماتو له مخې؛ په تورخم کې له ۸۰ کورنیو سره ۶۷۰زره افغانۍ مرسته شوې او همدارنګه ۷۱ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۱۶۳ تنه و، خپلو ولایتونو ته انتقال او ۲۴۹ زره ۷۰۰ افغانۍ کرایه هم ورکړ شوې ده. د کډوالو ستونزو ته د رسېدنې عالي کمېسیون په خبرپاڼه کې راغلي، چې د غبرګولي میاشتې په ۲۴ مه نېټه له ایران څخه د نیمروز ولایت د ورېښمو له لارې ۱۳۷ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۷۰۹ تنه و، هېواد ته راستنې او ثبت شوې دي او هلته له ۱۳۵ کورنیو سره ۱ میلیون ۱۱۲ زره افغانۍ مرسته هم شوې ده. له دغې لارې څخه ۷۴۳ مسافر هم خپل هېواد ته راستانه شوي دي. په خبرپاڼه کې راغلي، چې په یاده نېټه د هرات ولایت د اسلام کلا له لارې ۲۵۲ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۹۷۸ تنه و، هېواد ته راستنې او ثبت شوې دي او له یادو کورنیو سره ۱ میلیون ۹۰۰زره افغانۍ مرسته شوې ده . همدارنګه وړمه ورځ له کابل څخه۳۶ کورنۍ، چې د غړو شمېر یې ۲۰۶ تنه و، لوګر، کندز، تخار، سمنګانو او بلخ ته لېږدول شوې دي او یادو کورنیو ته ۸۳۵۰۰ افغانۍ کرایه هم ورکړ شوې ده. د یادونې وړ ده، چې راستنو شویو کورنیو ته د دغه کمېسیون د اطلاعاتو او عامه پوهاوي کمېټې له لوري د دوی د ثبت، لېږد، مالي مرستو، لنډمهاله مېشتېدنې او همدارنګه د هېواد، اسلامي نظام، مهاجرت، صبر او زغم، ښوونې او روزنې په اړه ګټور پوهاوي ورکړل شوي دي او ټول ټال ورته ۲۶۶ سیمکارتونه هم وېشل شوي دي.

### افغان کډوال دې په ...

د ایران د امنیتي بنسټونو له‌خوا د نیولو یا قانوني اقدام سبب کېدای شي. په ایران کې د افغانستان سفارت له افغان کډوالو غوښتي، چې په عامو ځایونو لکه مېترو، بازار، ټکسي یا د کتارونو په تمځایونو کې د داسې موضوعاتو لکه: مظاهرې، بریدونو یا سیاسي دریځونو په اړه له خبرو کولو ډډه وکړي. د دې خبرتیا له مخې، افغان اتباع باید له ګوندیزو غونډو، سیاسي فعالیتونو، مظاهرو، سیاسي څرګندونو او د سیاسي مطالبو له خپرولو یا شریکولو څخه په مجازي فضا کې ځانونه وساتي. همداراز په خبرتیا کې ویل شوي: ((مهمه ده چې د ایران د اوسني وضعیت په اړه د باوري خبري سرچینو او د حکومتونو د رسمي وېب‌پاڼو له لارې ځانونه باخبره وساتئ او د امنیتي وضعیت هر ډول بدلون یا تحول ته متوجه واوسئ)) د سفارت په وینا، که دا لارښوونې په دقت سره عملي شي، افغانان کولی شي په ایران کې د سفر پر مهال خپل امنیت زیات کړي، له احتمالي خطرونو څخه مخنیوی وکړي او خپلې مثبتې اړیکې پیاوړې کړي.

دغه‌راز سفارت سپارښتنه کړې، چې د یوه ارام او خوندي سفر لپاره باید افغانان د اړوندو چارواکو له‌خوا له نویو مقرراتو او سپارښتنو تل ځانونه باخبره وساتي.

### جبهه مقاومت هرگز ...

ایران دوست شود، اعتبار خود را نزد حامیان غربی‌اش از دست خواهد داد.

آقای کریس هاک روز یکشنبه، ۲۵ جوزا در لینکدین به موضع جبهه مقاومت ملی درباره درگیری‌های اسرائیل و ایران واکنش نشان داد و رژیم ایران را «تروریست‌های ضدغرب» خواند.

او نوشت: «اگر جبهه مقاومت ملی افغانستان بخواهد با رژیم ایران دوست شود، این دوستی به بهای پیوستن به صف دست‌نشانده‌های تروریست آنها تمام خواهد شد.»

رئیس نهاد دوستان افغانستان در این یادداشت تاکید کرده است که جمهوری اسلامی همان چیزی است که طالبان می‌خواهند به آن تبدیل شوند. او همچنین افزود که رژیم ایران مسئول کشتن هزاران نیروی نظامی امریکایی است.

در یادداشت او تاکید شده است که جمهوری اسلامی مردم خود، به‌ویژه زنانی را که برای حقوق شان ایستادگی می کنند، سرکوب و به قتل می‌رساند.

او همچنین نوشت: «جبهه مقاومت هرگز فرصتی برای خیانت به کهنه‌سربازان ارتش امریکا را از دست نمی‌دهد، همان کسانی که همواره از آنها درخواست کمک برای جذب حمایت امریکا در مخالفت با طالبان می کنند.»

### طرح عملی سازی توزیع ...

آنها کمتر از پنجاه درصد باشد. جناب وزیر در این دیدار همچنان تأکید کرد که روند استرداد باید شفاف باشد و برای اجرای این روند مکانیزم عالی رویدست گرفته شود . قرار است این پیش‌نویس پس از غنامندی نهایی، با مقام محترم ریاست الوزراء شریک ساخته شود.

### د کډوالو وضعیت ...

خدمات برابر کړي. له پېښو سره د مبارزې او امادګۍ ملي ادارې د دې لیدنې موخه، د کډوالو د وضعیت ارزونه، د شته خدماتو څېړنه او د بېړنیو او دوامدارو مرستو لپاره د لا همغږۍ رامنځته کول یاد کړي دي.

### پکتیا کې د ۵۰ لوبډلو ...

لوبډلې خپلې سیالې کړکېن لوبډلې ته د ۱/۲ میدانونو په توپیر ماتې ورکړه. ورته مهال د میدان وردګو ولایت د بدني روزنې او سپورټ آمریت مسئولین وایي چې د دغه ولایت په چک ولسوالۍ کې د والیبال پیل شوې سیالۍ د تنګې ستړ لوبډلې په اتلولۍ پای ته ورسېدې .سرچینې زیاته کړې چې د دغو سیالیو لومړي مقام ته ۳۰ زره او دوهم مقام ته ۱۰ زره افغانۍ هم ورکړل شوې.د یادونې وړده، چې د دغو سیالیو موخه د سیمې د خلکو لپاره د سالمې تفریح برابرول ښودل شوې، چې یوه میاشت به دوام وکړي.

### د ایران بریدونو کې ...

چې د ژغورنې عملیات یې روان دي. د وړمې شپې بریدونه، پر ایران د اسراییلو د شویو بریدونو په غبرګون کې ترسره شوي دي.اخوا ایراني چارواکي وایي: د اسراییلو د بریدونو له امله له سلو زیات کسان وژل شوي او سلګونه نور ټپیان دي.د اسراییلو په بریدونو کې شاخوا ۳۰ لوړپوړو ایراني نظامي چارواکو او ساینسپوهانو هم خپل ژوند بایللی دی . راپوررونه وایي چې اسراییلو او ایران د شنبه او یکشنبه شپو ورځو کې پر یو بل د بریدونو نوې څپه پیل کړې چې له امله یې د جګړې وېره نوره هم زیاته شوې ده. نړیوالو رسنیو راپور ورکړي، چې د اسراییلو په تازه بریدونو کې د ایران پوځي تاسیسات او د دفاع وزارت هم په نښه شوي.

### امریکا د اسرائیلو ...

چارواکي هم د اسرائیلو د دغې غوښتنې په تأیید سره ویلي: د ټرمپ حکومت دا مهال یادې جګړې ته تمایل نه لري.

دا په داسې حال کې ده، چې د امریکا ولسمشر ټرمپ له خپل روسي سیال ویلادیمیر پوتین سره په ټیلفوني خبرو کې له نوموړي غوښتي، چې د ایران او اسرائیلو ترمنځ دې د جګړې درولو لپاره هڅې چټکې کړي.

# Hewad Daily


د ورځپاڼو رئیس: انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل: ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: شبیر احمد عثماني
موبایل: ۰۷۷۷۷۱۹۱۲۵
مسئول سکرتر: شېر محمد نظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
داړیکو شمېره: ۰۲۰ - ۲۵۲۶۳۴۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې وېب سایټ له لارې هم کتلی شئ
ویب سایت: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳

دوشنبه د ذوالحجة الحرام ۱۹ مه ۱۴۴٦ق کال | د غبرګولې ۲٦ مه ۱۴۰۴ ل کال | د 2025م کال د جون ۱٦ مه


## ایران کې د افغانستان سفارت:

# افغان کډوال دې په سیاسي فعالیتونو کې له ګډون څخه ډډه وکړي



په ایران کې د افغانستان اسلامي امارت سفارت له ټولو مېشتو افغانانو غوښتي، چې له حساسو نظامي مرکزونو څخه لرې پاتې شي او له سیاسي فعالیتونو او پاروونکو موضوعاتو ډډه وکړي. په دې اعلامیه کې ټینګار شوی، چې د ایران پوځي مرکزونه په جدي توګه تر امنیتي څار لاندې دي او شاوخوا یې هر ډول مشکوک چلند ... ۲مخ

## د سعودي عربستان ولیعهد:

# اسلامي نړۍ د ایران ملاتړ کوي

د سعودي عربستان ولیعهد محمد بن سلمان د ایران له ولسمشر مسعود پزشکیان سره په ټیلفوني خبرو کې ویلي، چې هېواد یې د ایران د خلکو ترخنګ ولاړ دی او اسلامي نړۍ په یووالي سره د ایران ملاتړ کوي. د



ایران د ولسمشرۍ ماڼۍ د اعلامیې له مخې، د سعودي عربستان ولیعهد زیاته کړې، چې اسرائیلو خپله ټوله هڅه کړې، تر څو امریکا له ایران سره په جګړه کې ښکېله کړي. د ایران ولسمشر ویلي، چې سعودي عربستان د اسلامي هېوادونو د یووالي او د مسلمانانو له حقونو څخه د دفاع برخو کې ګټور رول لوبولای شي.

## کندز کې یو جومات جوړ شو

د کندز ولایت د ارشاد، حج او اوقافو ریاست مسئولین وایي، چې د دغه ولایت د ګلتپې ولسوالۍ په ارباب حیدر شهید کلي کې د یو میلیون ۳۷۰ زره افغانیو په لګښت یو جومات جوړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو. د یاد ریاست د نشراتو مسئول حضرت جان فقیري باختر اطلاعاتي آژانس ته وویل، چې دغه جومات د ((رباط)) په نامه د یوې ترکي موسسې په مالي ملاتړ د خلکو په ونډې په پاخه او اساسي ډول جوړ شوی دی. نوموړي زیاته کړه، چې یاد جومات ۱۷ متره اوږدوالی او ۱۴ متره سور لري.

## جیسون کریس هاک:

# جبهه مقاومت هرگز فرصت خیانت به کهنه سربازان امریکایی را از دست نمی‌دهد.

جیسون کریس هاک، نویسنده و رئیس نهاد دوستان افغانستان درباره موضع جبهه مقاومت ملی افغانستان در قبال حملات اسرائیل بر ایران نوشت که این جبهه هرگز فرصت خیانت به کهنه‌سربازان ارتش امریکا را از دست نمی‌دهد. او گفت اگر جبهه مقاومت با رژیم... ص۲

## طرح عملی سازی توزیع مجدد اپارتمان‌های مسترد شده شهرک امارات مورد بحث قرار گرفت

الحاج شیخ حمدالله نعمانی، سرپرست وزارت شهرسازی و مسکن، با اعضای کمیته در دفتر خود دیدار و در مورد طرحی عملی سازی به هدف بازپس‌گیری آپارتمان‌های شهرک امارات و توزیع مجدد این اپارتمان‌ها بحث و گفتگو نمودند.آقای نعمانی به رئیس کمیته، الحاج محمد اسماعیل فائز، معین امور ساختمانی و توسعه برنامه‌ها، وظیفه سپرد تا روی یک طرح عملی سازی برای تعیین سرنوشت آپارتمان‌های مسترد شده شهرک امارات در منطقه قصبه شهرکابل کار را آغازنماید. درکمیته همچنان تاکید شد که به عنوان بخشی از تلاش‌های خود، پیش‌نویس برنامه عملی سازی را با مقام شریک نموده تا درپیوند با آن، به هدف غنامندی موضوع پیشنهادهایی بیشتر ارائه گردد. همچنان یاد آوری شد آپارتمان‌های شهرک امارات زمانی مسترد می گردد که نرخ پرداخت اقساط ... ص۲



## مسئولین: د کډوالو وضعیت د ښه‌والي لپاره زموږ هڅې دوام لري

له پېښو سره د مبارزې او امادګۍ ملي اداري لوی رئیس ملا نورالدین ترابي، نیمروز ته د خپل رسمي سفر په ترځ کې، په میلک پوله کې د کډوالو له کمپ او د کډوالو نړیوال سازمان (IOM) له کمپ څخه لیدنه وکړه. په دې لیدنه کې ښاغلي ترابي د یادو پنډغالو د کډوالو د اوسني وضعیت، شته ستونزو او ورکړ شویو خدماتو په اړه معلومات ترلاسه کړل. د کمپ مسئولینو د نوموړي لیدنه مثبته وبلله او د کډوالو بېړنۍ اړتیاوې او اساسي ستونزې یې ورسره شریکې کړې. ملا نورالدین ترابي ډاډ ورکړ، چې د کډوالو وضعیت د ښه‌والي په موخه به هڅې دوام ومومي او دغه اداره به له داخلي او نړیوالو بنسټونو سره په همغږۍ اړمنو کورنیو ته لا ډېر ... ۲مخ



## پکتیا کې د ۵۰ لوبډلو ترمنځ د والیبال سیالیو پیل!

د پکتیا ولایت د المپیک، بدني روزنې او سپورټ آمریت مسئولین وایي، چې د یاد ولایت په میرزکې ولسوالۍ کې د ۵۰ لوبډلو ترمنځ د والیبال سیالۍ پیل شوې دي.
سرچینې باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي چې دغه سیالۍ د والیبال فدراسیون له لوري د میرزکې ولسوالۍ په کړکین خوله ساحه کې د ۵۰ لوبډلو ترمنځ د لجې منګلو لوبډلې په بریا سره پیل شوې دي. د یادو سیالیو لومړۍ لوبه کې د لجې منګل ... ۲مخ

## بلخ کې زرګونه نظامي وسایط ترمیم شوي

د کورنیو چارو وزارت وایي: د بلخ امنیې قومندانۍ د تخنیکي چارو منسوبینو زرګونه نظامي وسایط ترمیم او د پولیسو ګټې‌اخیستنې ته سپارلي دي. د یاد وزارت د خبرپاڼې له مخې په دغو نظامي وسایطو کې ۱۶۰۴ رنجر موټرونه او ۲۶۴ هاموي ټانکونه او انټرنیشنل وسایط شامل دي چې د تخنیکي چارو د منسوبینو له لوري په مسلکي توګه ترمیم شوي دي. د کورنیو چارو وزارت همداراز ویلي چې د تخنیکي پرسونل په مرسته په ورکشاپ کې د لسګونو نورو نظامي وسایطو د جوړېدو چارې هم رواني دي. د یادولو وړ ده چې له دې مخکې هم د پلازمېنې کابل په ګډون په یو شمېر ولایتونو کې د کورنیو چارو او ملي دفاع وزارتونو اړوند بېلابېل وسایط ترمیم او ګټې‌اخیستنې ته سپارل شوي وو.



## لوګر؛ خلکو د پوهنې ریاست سره ۵ میلیونه افغانۍ مرسته کړې

د لوګر ولایت د پوهنې ریاست مسئولین وایي چې د روان ۱۴۰۴ ښوونیز کال له پیل څخه تر اوسه د دې ولایت علم دوستو اوسېدونکو د پوهنې بهیر د پیاوړتیا په موخه پنځه میلیونه افغانۍ مرسته کړې ده. د یاد ولایت د پوهنې ریاست ویاند شاهپور عرب باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې دغه مرستې د عاموخلکو له لوري له ۲۲ دیني مدرسو او ښوونځیو سره شوې دي.
نوموړي زیاته کړه، چې په




مرستو کې د ځمکو وقف، د درسي ټولګیو او احاطوي دېوالونو جوړول، د ودانیو او ملحقاتو بیارغول، د څښاک پاکو اوبو برابرول، د لمریزې برښنا فعالول او د درسي توکو وېشل شامل دي. د ویاند په وینا، دا مرستې د پوهنې ریاست سره په بشپړه همغږۍ شوې دي.

## د ایران بریدونو کې د وژل شویو اسرائیلیانو شمېر ۱۰تنو ته لوړ شو


ایران ورمه شپه یو ځل بیا د تل‌ابیب او حیفا په شمول د اسراییلو پر بېلا بېلو سیمو توغندیز بریدونه کړي چې پراخې ویجاړۍ یې رامنځ ته کړې. د راپورونو له‌مخې، دغو بریدونو کې د وژل شویو کسانو شمېر ۱۰ ته لوړ شوی او له سلو ډېر ټپیان دي. ویل شوي چې ۳۵ کسان تر خاورو لاندې دي ... ۲مخ

## امریکا د اسرائیلو غوښتنې رد کړې



اکسیوس وېب سایټ د اسرائیلي او امریکایي چارواکو له قوله راپور ورکړی، اسرائیلو تېرو دوو ورځو کې څو ځلې له امریکا غوښتي، چې د ایران جګړه کې ورسره برخه واخلي، خو واشنګټن منفي ځواب ورکړی. دوو اسرائیلي چارواکو یادې رسنۍ ته ویلي: تل ابیب له ډونالډ ټرمپه غوښتي، چې د ایران پر اټومي سایټونو دې په بریدونو کې ونډه واخلي. د راپور له مخې یوه امریکایي ... ۲مخ

## حوثي ځواکونه: اشغالي فلسطین کې مو حساس اهداف په توغندیو ویشتلي



د یمن وسله‌وال پوځ یوه اعلامیه کې ویلي، حوثي ځواکونو ۲۴ ساعتونو کې د څو «فلسطین ۲» هایپرسونیک بالستیک توغندیو پرمټ د اشغالي سیمو دننه څو اهداف په نښه کړي دي. یادو ځواکونو ویلي: دغه بریدونه یې د صهیونیستانو له لوري د غزې د کلابندۍ په غبرګون کې کړي. دوی ویلي: د اشغالي فلسطین یافا سیمه کې یې څو حساسې نقطې په نښه کړې دي. د یمن وسله‌وال پوځ دا هم ویلي، چې بریدونه یې ایراني پوځ سره په همغږۍ کړي او موخه یې غزه کې د اشغالګر رژیم وروستیو تېریو ته ځواب ورکول ښودلي. حوثي ځواکونو عربي هېوادونو ته ګوتڅنډنه کړې، چې که نن د اسرائیلو د جنایتونو پر وړاندې اقدام ونه کړي، سبا به د غزې د خلکو حالت پر نورو عربي هېوادونو هم راشي.